# خدا نا کری اگر کبی بی پاکستان اور امریکا کی جنگ هو گیی تو هم پاکستان کی ساتهـ هونگی

کله، چې د امریکې د بهرنیو چارو وزیره مېرمن هیلارې کلنټون ماښام مهال کابل ته راغله او له ولسمشر کرزي سره یې تر لیده کاتو وروسته له ښاغلي کرزي سره یو ځای یوې خبري ناستې ته وویل: باید له وسله والو طالبانو سره د خبرو اترو له لارې ورانديې لاړ شو او که چېرې وسله وال طالبان او حتی د حقاني ډله خبرو اترو ته چمتو نه شوه پوځي فشار به پرې زيات کړي، چې دا خپله پر ولسمشر کرزي او افغان حکومت یو ډول فشار وو؛ ځکه لدې وړاندې او د استاد رباني له وژل کېدو څخه وروسته ښاغلي کرزي په ډاګه ویلي وو، چې لدې وروسته به د وسله والو پر ځای د پاکستان له دولت سره خبرې اترې تر سره کړي، ځکه پاکستان د دغو جنګیالو ملاتړی دی.

مېرمن کلنټن له کابل څخه وروسته اسلام آباد ته لاړه او هلته یې له پاکستاني چارواکیو سره د لیدنې تر څنګ ټینګار وکړ، چې باید دوی هم پر وسله والو طالبانو فشار راوړي او په ځو اونیو کې دې د حقاني شبکه و ځپي؛ خو لدې وړاندې د پاکستان د پوځ چارواکیو ویلي وو، چې د حقاني شبکې سره د دوی اړیکې د پاکستان د ملي ګټو لپاره دي.

کابل او اسلام آباد ته د امریکې د بهرنیو چارو وزیرې مېرمن کلنټون له سفر څخه وروسته د پاکستان له خصوصي ټلویزیون (جیو) څخه د ولسمشر حامد کرزي د مرکې یوه برخه خپره شوه، چې په هغه کې افغان ولسمشر پداسې حال کې، چې د دغو خبرو په وروستۍ برخې کې خپل لاس د احترام په توګه په ټټر ږدي وایي: (خدا نا کری اگر کبي بي پاکستان اور امریکا کي جنگ هو گیي تو هم پاکستان کي ساتهـ هونگي) یعني خدای دې نه کړي که چېرې د پاکستان او امریکې تر منځ جګړه را منځ ته شي نو موږ (افغانستان) به د پاکستان په طرف وي.

د ولسمشر دغه څرګندونو د هېواد په دننه او بهر کې د رسنیو خبرونه او بحثونه تاوده کړه؛ خو د دغه خبرو له خپرېدو څخه یوه ورځ وروسته د ولسمشر حامد کرزي ویاند ښاغلي ایمل فیضي له آزادۍ راډیو سره په مرکه کې وویل، چې د ولسمشر کرزي خبرې تحریف شوي او که چېرې بشپړه مرکه یې خپره شي نوري مهمې خبرې په کې دي.

ایمل فیضي وویل چې ولسمشر جیو تلویزیون ته په مرکه کې ویلي که امریکا د پاکستان پر دولت برید وکړي نو افغانستان به د ضرورت په وخت له خپلو پاکستاني وروڼو سره مرسته وکړي، یعني هغوی ته به پناه ورکړي؛ خو په هغو کرښو، چې مې پورته ولیکل هېڅ راز داسې څرګندوني شتون نه لري.

اساسي پوښتنه دلته ده، چې څنګه دغه مرکه افغانستان او پاکستان ته د امریکې د بهرنیو چارو وزیرې له سفر څخه وروسته تر سره کېږي او په هغه کې بیا ولسمشر کرزی وایي، چې د پاکستان تر شا ولاړ دی؛ خو ښاغلی ویاند یې بیا د ده خبرې بل ډول تفسیروي؟.

یو ټکی، چې کېدای شي پرې اتکا وشي هغه د امریکا له لوري پر افغان حکومت فشار دی، چې د مېرمن کلنټون سفر څخه وروسته یې ولسمشر اړ کړ، څو دا راز څرګندوني وکړي او د پاکستان پر ځای یو ځل بیا دا وهڅوي، څو له وسله والو طالبانو او حتی د حقاني له ډلې سره خبرې اترې وکړي او همدا راز شوني ده، چې پاکستاني چارواکیو د امریکې د بهرنیو چارو وزیرې ته ویلي وي، چې پر افغان حکومت دې فشار راوړي، څو د پاکستان پر وړاندې څرګندونو او تورونو څخه لاس پر سر شي، که نه نو بیا د نړۍ دوه نور قدرتونه (چین او روسیه) پاکستان ته په دوو پښو ناست دي، څو له امریکا څخه یې خپل کړي، چې په پایله کې ولسمشر حامد کرزي هم د امریکې و منله او یو ځل بیا یې د هېوادوالو ترمنځ ځان لا بې باوره کړ.

**مجیب الرحمن ساپی، کابل**

بریښنالیک:

intezar.safi@gmail.com